# د سر د بقا مبارزه به دوام لري!!!

خان زمان کاکړ

د پښتنو د وطن اوسني حالات د زړونو ويلي کولو دي. د افغانستان د دېرش کلنې غميزې په تناظر کښې نن محکوم پښتنانۀ د تاريخ بې بدله جبر زغمي، دا جبر زړۀ چاودونکے په دې دے چې په دې غېر فطري جغرافيه کښې د هر عمل نتائج هم غېر فطري دي. کۀ ئې دا شپېتۀ کاله سره ګره کړو، څۀ ئې راکړل؟ څۀ مو ورکړل؟ څومره بد خوندي، بېګانګي او علېحدګي چې مو په جغرافيه کښې سره ليدل کېږي، هم دغه هومره په ذهنونو، خيالونو او هدفونو کښې سره بيل يو، چې کله په دوزخي صورتحال کښې پراتۀ يو، دوي خاموش وي خو کله چې نسبتاً آرام ژوند ته لار باسو، دوي بېدار شي، احتجاج پېل شي او روشن خيالي او لبرل ازم ورياد شي.

ټول تحفظات او اختلافات په سر سترګو، څوک دانشور خو دې يوه داسې لار هم را په ګوته کړي چې د سر بقا مې پرې يقيني شي. عدل ريګولېشن ته د اې اين پي په نظرياتي چوکاټ کښې کتل لويه فکري تېروتنه ده. دا د يومعروضي ضرورت په توګه مطالعه کول پکار ده. دلته کښې ستونزه دا ده چې سياسي فکر په زميني حقائقو استوار نۀ دے بلکې د جذباتيت نه سرچينه اخلي. تر دې هم ډېره ارزښتناکه خبره دا ده چې زمکه هغه سوځي چې اور پرې بلېږي، لفظي کرتب بازي کوم مشکل کار نۀ دے او مغز ماري او بېت بازي هم کومه پابندي نۀ لري. تر دې هم زيات د اجرتي صحافت مُوخې پالل او سياسي موقع پرستي پارول کوم تهذيب او اخلاقيات نۀ لري. دوي ته دنده هم دا سپارل شوې ده چې کله هم په پښتونخوا کښې نسبتاً سوکاله او سوله ايز ژوند ته لاره برابرېږي، ستاسو احتجاج او جذباتيت به ستاسو يو جمهوري حق ګرځي.

تنقيد کوم جرم نۀ دے او نۀ خپل قامي قيادت د تنقيد نه مبرا ګڼم، خو کله چې په روانه سياسي منظرنامه کښې د "نقادانو" نيت، انداز او ادا ته ګورم، د مريي د مريتوب قيصه راياده شي. کله چې دښمنان جرګه ووينم، د خپل قامي قيادت سره مې مينه او همدردي زياته شي. د دوي د مېډيا اساسي موخه مې قامي او سياسي امېج مسخ کول دي. په اوسني وخت کښې د پاکستان مېډيا څرګند جانبدار سياسي رول لوبوي او په څرګنده مې د قامي دښمن د موقف مرسته کوي. مونږ چې څومره په سياسي او معاشي حواله در په در خاورې په سر يو، هم دغه هومره په مطبوعاتو کښې هم خوار يو. پردي ئې "د نوائے وقت" د مرچو له قراره، "خپل" مو هم ناليدلې ويرې نيولي دي. قامي نمائندګي نشته،

غمیزه خو لا دا چې د پردي انصاف د تور کوټ په پښتو کښې زبردست کوربچ، پردي ډول ته اتهونه چرته د پنجاب د کومې جریدې په ټائټل د رحمان بابا د مزار تصویر تاسو ولید؟

د بربنډې ناروا په دې چاپېریال کښې د سر د بقا په جنګ کښې د اې این پي خلوص یواځې هغه څوک درک کولے شي چې په دوزخي اورونو کښې سوځي. د پښتنو سیاسي قیادت نن د اقتدار عیاشي او آسائش نه بلکې لوئے قامي مسوولیتونه په غاړه لري. کۀ تر ماضي ورسره تېر هم شو، د اوسني سبټ اپ په تناظر کښې هم تر ټولو زیاتې قرباني د پښتنو تحریک ورکړې دي. دا بیله خبره ده چې کرېډټ به مې مدام د لوئے "ورور" وي، د وکیلانو په تحریک کښې هم صرف دا لوئي ثابتول وو. مونږ ته خپله خواره برخه خواره پاتې شوه. سیاسي مفسدین په شریکه د سازشي حربو نه برخمن هم په یوۀ سنګر کښې ناست دي. فرق صرف دا راغلے دے چې کوم کار وړاندې په ټارچر سېلونو، اذیت خانو او جېلونو کښې ترسره کېدو، هغه کار اوس د ځانمرګو برید کوونکو نه اخلي. اهداف هم نۀ دي بدل شوي، هغه پخوانے سوچ دے. دا د دربم لاس خبره چې مو هر وخت کړې ده. مطلب مو هم هغه اول لاس دے چې له دېرشو کلونو د لوبې افغانستان په ګرېوان ښخ دے. هغه لاس چې نیم په اوجړي کېمپ کښې والوتو او نیم نائن الېون قبائلي علاقو او پښتونخوا ته راغبرګ کړو. استخبارات او "کوکنار" د یو او بل ضرورت، نشه او کاروبار!!! په دې ریاستي بدمستۍ او بلانوشۍ کښې مې ژوند مفلوج او انفراسټرکچر تباه شو. سیاسي ډانچه ئې را ورانه او د اقتصاد ملا ئې راماته کړه خو په ماتم کښې راسره کومه سترګه د ژړلو نۀ وه. هغه چې پنجاب ته به ئې استعمار وایۀ، په ارامو حالاتو کښې زښت ګرم وو، خو په ګرمو حالاتو کښې زښت ساړۀ شول. خاموشي ئې لویه سرمایه شوه. درویش درانے رښتیا وائي:

د یزید هر سړے خلاف دے مګر دا به ګورو
چې له حسېنه سره څو تنه مېدان ته رسي

زمونږ "حسېن" په مېدان تنها پاتې ؤ، څوک ئې د مرستې نۀ وو، د خبرو ټول غرونه نړېدلي وو.

دا یو عجیب ذهني اذیت دے کله چې په پښتونخوا کښې انسانیت د یوې غمیزې سره لاس او ګرېوان وي، سیاسي خلق قتلېږي، مکتبونه سوځي او دوزخي فضا رغول کېږي نو هر خوا خاموشي وي، هېڅ یوه مظاهره او جلوس نۀ تر سترګو کېږي خو کله چې د پښتنو قامي قیادت یوه لار وباسي، نسبتاً امن تامین شي او د خبرو یو پړاؤ روان شي نو بیا هر طرف ته شور شي. د پنجاب لبرل دانشوران، جهادي مېډیا او مهاجران بېدار شي. په انساني حقوقو اوږدې مناظرې روانې شي او په سختو ټکو د صوبائي حکومت غندنه پېل شي. د باچا خان بابا تاریخ او د رحمان بابا لوئے انساني فکر ور یاد شي.

دوي دې خپل کار کوي او مونږ به خپل!!! خپلې قامي موخې او اهداف به په نظر کښې لرو، لمنې مو هسې هم سپینې نۀ شوې، په بهرني لاس نیولو کښې به هم کوم حرج نۀ محسوسوو، د سر د بقا په جنګ کښې د خپل قامي قیادت سره په پراخو بنیادونو مرسته پکار ده نور د غلطیو ګنجائش

نشته. دا د غلطیو وخت نهٔ دے بلکې د فیصلې، پاڅون او مزاحمت وخت دے. مایوسي پکار نهٔ ده بلکې وړاندې تګ پکار دے. افراسیاب خټک وائي:

وختونه پښه نیولي شول یو سوال کوي زمانه
دې دور د مغلتیا کښې د پښتو ملګري شته؟
دا باد د زمانې چې مونږه چېړي هسې نهٔ ده
دا ګوري چې په مړو ایرو کښې سرهٔ بڅري شته؟